# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت

## ریاست اطلاعات و ارتباط عامه

# بولتن خبری

# News Bulletin

۲۸ حوت _سال ۱۴۰۰


اخبار مهم
افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان صفحه

د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري عالي کمېشنر کندهار او ننګرهار ولایت ته سفر وکړ ---------------------------------٤
بیش ازدو هزار مهاجرافغان ازایران برگشت نمودند --------------------------------------------------------------------٤
کانادا به مهاجرین اوکراینی اقامت سه ساله می‌دهد ------------------------------------------------------------------٥
سویدن می‌خواهد که کنترول در مرز را دوباره عملی کند-------------------------------------------------------------٧
د فرانسي ولسمشریزې ټاکنې: د کډوالو په هکله د ښي او مرکزي اړخو ډلو نوماندانو وړاندیزونه----------------------٨
ملل متحد از طرح بازگشایی مکاتب دختران در افغانستان استقبال کرد --------------------------------------------- ١١

خبرنامه

# متن کامل اخبار

## د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري عالي کمېشنر کندهار او ننګرهار ولایت ته سفر وکړ

د وزارت وېب سایټ



پرون چهارشنبه د کب په (۲۵) مه د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري (UNHCR) د عالي کمېشنر فلیپوګراندي او د وزارت څخه د ورغلو استازو، کندهار او ننګرهار ولایتونو د مهاجرینو ریاستونو څخه لیدنه وکړه.

د کندهار او ننګرهار ولایتونو د کډوالو چارو د رئیسانو سره په خبرو کې د ملګرو ملتونو دغه لوړپوړي چارواکي وویل، چې کندهار او ننګرهار ته یې د سفر موخه له د اخلي بېځایه شوو سره د مرستو او د افغانستان اسلامي امارت له چارواکو سره د دواړو لوریو ترمېنځ د ګډو همکاریو په اړه خبرې اترې وکړي.

نوموړي زیاته کړه چې موږ په افغانستان کې د بېځایه شویو او اړمنو د اړتیاوو د حل په موخه پراختیایي پروګرامونو او د ګډو همکاریو په برخه کې به لازمي مرستې وکړو.

## بیش ازدو هزار مهاجرافغان ازایران برگشت نمودند

ویب سایت وزارت




آمریت امورمهاجرین وعودت کننده گان ولایت نیمروز ازبرگشت ۲هزارو ۶۲۱ مهاجرافغان از کشور ایران به روز چهارشنبه شنبه ۲۵ حوت سال وران خبرداد.
به گفته منبع ، از میان افراد مذکور۱۰۲ خانواده، شامل ٤۰٦ تن و ۱۵۵۸ افراد مجرد، طور جبری، ۵ فامیل شامل ۱۵ تن و٦٤۲ تن افراد مجرد دیگرطورداوطلبانه واردکشور شده اند.
منبع علاوه نمود که ازآن میان، ۱۰۲ خانواده شامل ۲۰۷ مرد و۲۰۷ زن، و٤۲٤ تن از افراد مجرد نیازمند غرض دریافت کمک، به دفتر IOMمعرفی شدند.

## کانادا به مهاجرین اوکراینی اقامت سه ساله می‌دهد

صدای امریکا




**کانادا روز پنجشنبه ۱۷ مارچ (۲۶ حون) از ایجاد یک برنامهٔ جدید مهاجرت پرده برداشت که بر اساس آن به اوکراینی‌هایی که از تهاجم روسیه فرار می‌کنند، تا سه سال اقامت موقت داده می‌شود .**

شماری زیادی از اوکراینی‌ها در بخش‌های مرکزی و غربی کانادا زیست دارند و اوتاوا گفته است که اوکراینی‌ها و اعضای خانوادهٔ نزدیک شان می‌توانند اقامت موقت کانادا را به دست بیاورند.

درخواست کنندگان باید فورمهٔ آنلاین را خانه پری کرده و نشان انگشتان و تصویر شانرا فراهم کنند.

مهاجرین اوکراینی همزمان می‌توانند برای جواز کار و تحصیل نیز درخواست بدهند.

اوکراینی‌ها و خانواده‌های شان که از قبل در کانادا مسکن گزیده اند، نیز می‌توانند از این اقدام جدید سود ببرند و جواز کار و اقامت شان را تا سه سال تمدید کنند.

بر اساس معلومات ملل متحد، بیش از سه میلیون اوکراینی در پی تهاجم مرگبار نظامی روسیه کشور شان را ترک کرده و بر اساس تخمین کمیشنری عالی ملل متحد در امور پناهندگان، شمار این مهاجرین در نهایت به بیش از شش میلیون نفر خواهد رسید.

اتحادیهٔ اروپا نیز در یک اقدام بی سابقه توافق کرده است که "رهنمود محافظت موقت" را فعال سازد، به این معنی که به مهاجرین اوکراینی اجازهٔ اقامت موقت برای یک سال با احتمال دو سال تمدید در اتحادیهٔ اروپا داده می شود.

درگیری های مسلحانه در اوکراین میان نیروهای اوکراینی و جدایی طلبان روسی زبان که از حمایت مسکو برخوردار اند، در اوایل سال ۲۰۱۴ آغاز و به سرعت با راکت‌پراگنی‌ها و ضد و خورد ها در مناطق مرزی شرق اوکراین با روسیه به یک بن بست مبدل شد.

روسیه به تاریخ ۲۴ فبروری سال جاری بر اوکراین حمله کرد. بر اساس معلومات ملل متحد تا اکنون در این جنگ ۷۲۶ نفر کشته و بیش از ۱۱۷۴ نفر دیگر زخمی شده اند.

## سویدن می‌خواهد که کنترول در مرز را دوباره عملی کند

مهاجر نیوز



© picture-alliance/AP Photo/N. Hougaard

حکومت سویدن اعلام کرد که روند بازرسی در مرز را دوباره آغاز خواهد کرد. این اقدام به دلیل افزایش در رقم پناهجویان اوکراینی، روی دست گرفته شده است.

سویدن در نظر دارد که بازرسی و کنترول شناسنامه ها را در مرز این کشور انجام بدهد. مقام های سویدنی گفته اند که این اقدام به هدف کمک، در تعامل با ورود رو به افزایش پناهجویان از اوکراین به این کشور عملی می‌شود.

به گفته مسئولین در حکومت سویدن، تهاجم روسیه بر اوکراین سبب شده است تا "اروپا یکی از بزرگ ترین بحران پناهجویان را پس از جنگ دوم جهانی، دوباره تجربه کند".

این کشور اسکاندیناوی، کنترول مرزی را در سال ۲۰۱۵ هنگامی آغاز کرد که بیش از یک میلیون نفر، در جریان یک سال وارد اروپا شدند. بیشتر این افراد از جنگ در سوریه فرار کرده بودند. سویدن در آن زمان بیش از ۱۶۰ هزار نفر را پذیرفت.

قرار است طرح آغاز مجدد کنترول مرزی برای تایید، به پارلمان سویدن فرستاده شود .در صورتی که پارلمان با این طرح موافقت کند، سر از هشتم ماه اپریل سال روان این روند رسماً آغاز می‌شود.

**روش کنونی سویدن در مرز**

در حال حاضر، شهروندان اوکراین و کسانی که پاسپورت بایومتریک اوکراین را دارند، می‌توانند بدون ویزا وارد سویدن شوند و حد اکثر ۹۰ روز را در این کشور سپری کنند. با این همه، شهروندان اوکراینی که پس از ۲۴ فبروری سال روان از کشورشان بیرون شده اند، می‌توانند که حق اقامت موقت را در سویدن به دست آورند.

## د فرانسې ولسمشریزې ټاکنې: د کډوالو په هکله د ښې او مرکزي اړخو بېلو نوماندانو ورانديزونه

دویچوله پښتو



د ښې اړخې ډلې نوماندې والرس پکرس د کډوالۍ پر وړاندې سخت دریځ لري. نوموړې چې د جمهوري غوښتونکي ګوند له خوا ولسمشریزو ټاکنو ته نوماندې شوې وایي پناه غوښتنه باید په دربېمو هیوادونو کې ترسره شي او د مهاجرو د سهمیه بندۍ قانون تصویب شي. د مرکزي ګوند نوماند امانوېل مکرون بیا وایي چې د پناه غوښتنې او اخراج پروسو باید چټکې شي او شینګن زون سیستم کې باید بدلون رامنځ ته شي.

**د پناه غوښتنې او اخراج پروسو چټکول**

امانویل مکرون پرون پنجشنبه د ایل دو فرانس اوبرویلیه کې وویل چې غواړي د «پناه غوښتنې او اوسېدنې قانون بیاکتنه» وکړي. هغه وویل چې د اخراجونو پروسه باید چټکه شي او د استیناف لپاره نورې لارې هم وموندل شي .

**ایا دا کار شونی دی؟**

په ۲۰۱۸ کې مکرون د پناه غوښتنې او مهاجرت قانون په چوکاټ کې د پناه غوښتنې پر بیاکتنې ټینګار کړی و. دغه قانون د دوسیو د ارزولو موده له ۱۱ میاشتو ۶ میاشتو ته راټیټه کړه. د قانون له مخې کډوال فرانسې له رسېدو وروسته د ۹۰ ورځو په موده کې باید د پناه غوښتنه وکړي.

نوموړي دغه راز غوښتي چې د استیناف لپاره نورې لارې هم وموندل شي. په ۲۰۱۸ هغه وړاندیز کړی و چې د اوفپرا د رد ځواب او د پناه غوښتنې ملي محکمه کې د بیا کتنې غوښتنې ترمنځ موده باید ۱۵ ورځو ته راټیټه شي، خو دغه وړاندیز عملي نه شو. اوس کډوال حق لري چې د یوه میاشت په موده کې د استیناف غوښتنه وکړي .

والري پیکرس بیا وایي چې د پناه غوښتنلیکونو د ارزولو پروسه باید چټکه شي او دوو میاشتو کې پای ته ورسیږي. پناه غوښتونکي د دې پروسې پر مهال باید په مرکزونو کې وي او رد شوي کسان بیا وشړل شي.

ایا دا کار شونی دی؟ دا یوناني طریقه ده. خو اروپايي قوانین وایي چې پناه غوښتونکي په کوربه هیواد او یا ورته ځانګړو شویو سیمو کې د ازاد تګ راتګ حق لري. یوناني ټاپوګانو کې کډوال په داسې مرکزونو کې اوسیږي چې تړلي دي. سازمانونه بیا وایي چې دغه مرکزونه زندان معلومیږي. د یادو ودانیو د پرانیستلو پر مهال ۴۵ سازمانونو او ټولنو له یونان او اروپايي ټولنې څخه د کمپونو د تړلو غوښتنه کړې وه.

په وینا یې دغه کمپونه د مهاجرو د هویت د معلومولو او د زیانمنونکو کسانو د ساتنې مخه نیسي. همدارنګه کمپونو کې مهاجر خدماتو ته لاسرسی نه لري او رواني حالت یې پکې خرابیږي.

اوسنی حکومت څه وایي؟ څو میاشتې مخکې د فرانسې د کورنیو چارو وزیر ساموس ټاپو ته د سفر پر مهال ورته دریځ نیولی و. نوموړي ویلي وو چې تړلي کمپونه باید اسپانیا، ایټالیا او مالټا کې هم جوړ شي. د نوموړي په حواله: «که ټول هیوادونه د یونان په څېر د خپلو پولو ساتنه وکړي، اروپا کې به د مهاجرت مسله دومره جدي نه وي».

**د کډوالو سهمیه بندي**

والري پیکرس وایي چې هغه به د کډوالو د سهمیه بندۍ قانون تصویب کړي. مانا یې دا چې دوی به تصمیم ونیسي چې چا ته فرانسې ته د داخلېدو اجازه ورکړي او چا ته یې ور نه کړي.

هغه وړاندیز کوي چې دا قانون به د ټولپوښتنې وروسته د پارلمان له خوا تصویب شي.

ایا دا کار شونی دی؟ د اروپايي قوانینو ډاکټره تانیا راچو دېزنفوکس ټولنې ته وایي چې د اساسي قانون د ۱۱مې مادې له مخې ټولپوښتنه د سیاسي او اقتصادي پالیسیو په هکله ترسره کېدلی شي، خو باید د ټولپوښتنې موضوع له اساسي قانون سره په ټکر کې نه وي. مانا یې دا ده چې دا به پر پناه غوښتنې او د کورنیو یو ځای کېدنې پروسې کوم اغېز و نه لري.

د ګرونوبل د عامه حقونو پروفیسوره سرژ سلما بیا دېزنفوکس ټولنې ته وایي چې د اقتصادي کډوالۍ او یا ټولنیزو مرستو ته د لاسرسي په هکله ټولپوښتنه ممکنه ده. خو دا به کومه فایده نه لري. دغه قواعد په عادي قوانینو کې راځي.

د فرانسې اوسنی ولسمشر او د ولسمشریزو ټاکنو نوماند وایي چې سهمیه بندي د کاناډا او استرالیا په شان هیوادونو کې ممکنه نه ده، خو د فرانسې په څېر هیوادونو کې شونې نه ده.

**یوازې هغه کسان له ټولنیزو مرستو برخمن کېدلی شي چې ۵ کاله فرانسه کې اوسېدلي وي**

والري پیکرس وایي خلک ځکه فرانسې ته راځي چې دلته ټولنیز امکانات شته.

هغه وړاندیز کوي چې یوازې له هغو کسانو سره ټولنیزې مرستې (اې پي ال، ار اس آ...) کیږي چې پنځه کاله فرانسې کې اوسېدلي وي. خو هغه کسان چې د کاري پېښو، روغتیايي بیمې او د بې کارۍ بیمې ته یې ټکس ورکړی دوی بیا له مرستو څخه برخمن کېدلی شي.

ایا دا کار شونی دی؟ د ټولنیزو او کورنیزو چارو قانون له مخې د ار اس آ د ترلاسه کولو لپاره شخص باید په قانوني ډول پنځه کاله په فرانسه کې اوسېدلي وي. یوازې الجزایریان، د نړیوالې ساتنې سند درلودونکي، د ۱۰ کلن کارت خاوندان او هغه پلار او یا مور چې کوچني ماشومان لري پرته له دې شرط له ار اس آ څخه ګټه اخیستلې شي.

پاریس سېکلې کې د حقوقو پروفیسور لي سینیور سایټ ته وایي چې نورې ټولنیزې مرستې ټولو ته ورکول کیږي او ورکولو کې یې د فرانسویانو او بهرنیانو ترمنځ توپیر نشته.

امانویل مکرون په دې اړه څه نه دي ویلي.

**د توکي تړون پر سر بحث**

والري پیکرس وایي چې د توکي تړون پر فرانسې ډېر فشار اچولی او برتانیا باید خپل مسولیت ادا کړي.

د نوموړي د کمپاین مشر پاتریک ستفانیني وایي چې برتانیا باید انګلیس کانال لاندې تونل، د بندرونو او په ځانګړي توګه د کالې بندر د امنیت ټینګول او د فرانسې نظارت هڅې تمویل کړي. دوی وایي چې برتانیا فرانسه کې د پناه غوښتنې مرکزونه جوړولی شي ترڅو دلته یې دوسیې وارزوي.

ایا دا کار شوني دی؟ دواړې خواوې کولی شي چې دغه تړون لغوه کړي، خو دا کار باید په مکتوب ډول او له ډیپلوماتیکو لارو ترسره شي. د مکتوب له رسېدو دوه کاله وروسته به تړون لغوه کېږي.

خو د مهاجرتي چارو څېړونکی فرانسوا ګېنوک وایي چې که دغه قانون لغوه شي، یوه بله کاله به د برېتانیا په دوور او فورلکستون ښارونو کې جوړه شي.

امانویل مکرون د دې مفکورې سره مخالف دی.

**فرانسه کې د پناه غوښتونلیکونو د ارزولو لغوه کول**

والري پیکرس وایي چې پناه غوښتنلیکونه باید نورو هیوادونو کې د فرانسې سفارتونو ته او یا په سرحداتو کې وړاندې شي.

ایا دا کار شوني دی؟ نه، دا د نړیوالو قوانینو خلاف دی. ځکه چې د نړیوالو قوانینو له مخې د پناه غوښتنه باید په کوربه هیوادونو کې چارواکو ته وړاندې شي. د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو اداره وایي چې کوربه هیواد باید خپله خاوره کې پناه غوښتونکو ته پروسیجرونو، روغتیایي خدماتو، کار او زدکړو ته د لاسرسي زمینه برابره کړي.

د جنېوا کنوانسیون له مخې کوربه هیوادونه هغه کسان بېرته خپلو هیوادونو ته نه شي ستنولی چې هلته یې ژوند له ګواښ سره مخ دي. د مهاجرو په شا تمبونه قانوني نه ده. د دغې نوماندې د وړاندیز مانا دا ده چې هغه مهاجر چې پولو ته رسېږي دوی باید بېرته خپلو هیوادونو ته ستانه شي او هلته د پناه غوښتنه وکړي.

دا وړاندیز د اروپایي قوانینو خلاف دی. د قوانینو له مخې د اروپایي ټولنې غړي هیوادونه باید د نورو هیوادونو اتباعو او بې تابعیته وګړو ته چې د دوی خاورې یا سرحد ته رسېدلي دي اجازه ورکړي چې د پناه غوښتنه وکړي.

بله مسله دا چې ټول پناه غوښتونکي نه شي کولی خپلو هیوادونو او یا ګاونډیو هیوادونو کې د پناه غوښتنه وړاندې کړي. د بخښنې نړیوال سازمان وایي چې ډېری وختونه مادي امکانات او خوندیتوب نشته او دوی ډاډه نه دي چې قبولي به ترلاسه کړي که نه.

امانوېل مکرون په دې اړه څه نه دي ویلي.

**هغه کم سنه مهاجر چې د هډوکو ازموینه نه مني بالغ بلل کېږي**

والري پیکرس وایي چې ټول هغه کسان چې د هډوکو ازموینه نه مني بالغ بلل کېږي او د دوسیو د ردېدو په صورت کې یې اخراجېدونکي دي.

ایا دا کار شوني دی؟ د فرانسې د اساسي قانون شورا د ۲۰۱۹ په مارچ کې د هډوکو ازموینې د ترسره کېدو اجازه ورکړه خو ټینګار یې وکړ چې قاضیان دې پر دغې ازموینې له اندازې زیات باور و نه کړي. دوی وایي چې د اساسي قانون له

مخې کم عمر لرونکي کسان باید له قانوني ساتنې څخه ګټه پورته کړي او د هغوی د عمرونو د معلوملو لپاره لازمي تدابیر ونیول شي ترڅو زیان ور نه رسېږي.

امانوېل مکرون په دی اړه څه نه دي ویلي.

**شېنګن زون کي بدلون**

امانویل مکرون وایي چې شېنګن زون کي باید د نظارت شورا او د ملاتړ مکانیزم جوړ شي چې د کړکېچ په صورت کي چمتووالی ولري. هغه د فرانتکس د پیاوړي کېدو غوښتونکی دی.

ایا دا کار شونی دی؟ اروپایي شورا د ډسمبر پر ۱۴مه د شېنګن زون په اړه ځیني وړاندیزونه وکړل. د دغو وړاندیزونو له مخې د شېنګن زون یو غړی هیواد کولی شي چې ناقانونه مهاجر ونیسي او سرحدي سیمې او بیا هغه ګاونډي هیواد ته يې واستوي چې دوی له یاد هیواده په تېرو سره شېنګن زون ته دننه شوي دي.

وړاندیزونو کي دا هم ویل شوي چې د درېمو هیوادونو له خوا د مهاجرو د ابزاري ګټه اخیستو مخه ونیول شي.

والري پیکرس د شېنګن تړون او د اروپا د مهاجرتي سیستم باید د بیا کتنې غوښتونکي ده .هغه ټینګار کوي چې ټول هغه کسان باید بایمتریک شي چې اروپا ته داخلېږي. په وینا يې فرانتکس ۱۰۰۰۰ نورو سرتېرو ته اړتیا لري.

## ملل متحد از طرح بازگشایی مکاتب دختران در افغانستان استقبال کرد

صدای امریکا



**سازمان ملل متحد از طرح بازگشایی تمام مکاتب دختران که هفتهٔ گذشته از طرف وزارت معارف طالبان اعلام شد، استقبال کرده است .**

انتونیو گوتیرش، منشی عمومی ملل متحد روز جمعه ۱۸ مارچ (۲۷ حوت) در یک پیام تویتر نوشت: "من از طرح اعلام شده توسط طالبان برای بازگشایی مکاتب دختران و پسران به تاریخ ۲۲ مارچ استقبال می‌کنم" .

آقای گوتیرش همچنین خواستار فراهم سازی زمینهٔ آموزش برای تمام پسران و دختران شد .

وزارت معارف حکومت طالبان روز پنجشنبه گفت که دختران در سرتاسر افغانستان اجازه دارند تا هفتهٔ آینده به مکاتب خود برگردند.

عزیز احمد رایان، سخنگوی وزارت معارف طالبان، به خبرگزاری رویترز گفت: "تمامی مکاتب به روی همه پسران و دختران باز خواهد شد" .

آقای رایان افزود که "اما برای دختران شرایطی وجود دارد" و آن اینکه دانش آموزان دختر جدا از پسران و فقط توسط معلمان زن تدریس می‌شوند.

سخنگوی وزارت معارف طالبان گفت که در برخی مناطق روستایی که کمبود معلمان زن وجود دارد، معلمان مسن مرد اجازه خواهند داشت به دختران تدریس کنند.

سهیل شاهین، سخنگوی پیشین دفتر سیاسی گروه طالبان نیز با تایید این خبر به صدای امریکا گفت: "همانطور که وزارت معارف اعلام کرده، مکاتب باز خواهند شد" .

در همین حال، شاهین از قطعنامه شورای امنیت سازمان ملل متحد برای تمدید ماموریت ملل متحد برای یک سال دیگر در افغانستان، استقبال کرد.

شورای امنیت سازمان ملل متحد روز پنجشنبه ۱۷مارچ (۲۶ حوت) قطعنامه‌ای را تصویب کرد که براساس آن حضور سازمان ملل متحد در افغانستان برای یک سال دیگر تمدید شد.

شورای امنیت ملل متحد همچنین به برقراری روابط سیاسی با افغانستان تحت سلطه طالبان که هنوز جامعه بین المللی آن را به رسمیت نشناخته است، رای داد.

شاهین به صدای امریکا گفت: "تجدید [ماموریت] یوناما تصمیم مناسب شورای امنیت ملل متحد است" .

او گفت: "اما به رسمیت شناختن دولت فعلی و واگذاری کرسی افغانستان به دولت فعلی نیز ضروری است، زیرا در این صورت یوناما با یک دولت شناخته شده برای تسهیل کمک های بشردوستانه و تعامل با آن، برخورد خواهد کرد".

چندی پیش، گروه طالبان، سهیل شاهین، سخنگوی پیشین دفتر سیاسی این گروه در قطر را به صفت نمایندهٔ دایمی افغانستان در سازمان ملل متحد معرفی کرد، اما هنوز هم نصیر احمد فایق، امور این ماموریت دپلوماتیک را به پیش می‌برد.

طالبان پس از تسلط بر کابل جز ادارات معدود دولتی، به شمول سکتور صحت و معارف، زنان را از رفتن به کار منع کرده و نیز دروازه‌های مکاتب متوسطه و لیسه را به روی دختران بستند.

تحت حاکمیت قبلی طالبان از سال ۱۹۹۶ تا ۲۰۰۱، زنان عمدتاً از حق کار و تحصیل محروم بودند و معمولاً هنگام خروج از خانه مجبور بودند صورت خود را بپوشانند و با یک محرم شرعی همراه باشند.

خبرنامه